

# د انسان په تنګسه کې موسسه

## د تخنیکي او مسلکي زدکړو د معینیت په مرسته

## د افغانستان اسلامي جمهوریت



# معلوماتي پاڼې د بنستیزو وړتیاوو زدکړه

## د بڼ جوړول

Ketabton.com

د زده کړې دا مواد د افغانستان د کرنې په مسلکي لیسو او انستیتوتونو کې له اړوند چارتونو سره د درسي مرستیالو موادو په توګه کارول کیږي او سربیره پردې په باغونو او فورمو کې په عملي بڼه کارول کیږي.

خپرونکی د انسان په تنګسه کې (PIN) موسسه

www.peopleinneed.cz

د چک جمهوریت د پراختیايي اداری په مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړۍ ګڼه مالوماتي پاڼې (Factsheet) – د بنسټيزو مهارتونو زده کړه – د بڼ (باغ) جوړول

## د کرنيزو زده کړو پروګرام

## انسان په تنګسه کې موسسه – چک جمهوريت

## 2014

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړی ګڼه مالوماتي پاڼې (factsheet) - د اساسي مهارتونو زدکړې- بڼ جوړول

لړ لیک:


1. سریزه
2. سوداګریز پلان
3. د ساحې ټاکنه – د هوا حالات او اقلیم
4. د ساحې ټاکنه – د خاورې ډول
5. د ساحې چمتوکول
6. د ځمکې چمتو کول
7. د ونو او ورایټیو ټاکنه
8. طرح، ډیزاین، په بڼ کې د نیالګیو کښېنولو تګ لاره
9. د ونو ترمنځ واټن
10. د نیالګیو کښېنول


## 1. سریزه، د مالوماتي پاڼو پېژندني ته ښه راغلاست

تاسې د مالوماتي پاڼو په لومړنی برخه لاس کې لرئ کومه چې د انسان په تنګسه کې موسسې لخوا چمتو شوې دې. کله چې تاسې د یوه باغ د جوړولو نیت کوي نو باید د بڼ د جوړلو پلان مخکې له دې چې نیالګې کښېنوئ جوړ کړئ. دواړه کارونه باید په یوه وخت کې پیل نکړئ ( د نیالګیو له ایښودو مخکې باید پلان جوړ وي). د غه پاڼې تاسې ته په افغانستان کې د یوه باغ د جوړولو عملي مالومات وړاندې کوي. هیله ده چې د دغه مالوماتي پاڼو له لوستلو ګټه واخلی او خپل نظریات له موږ سره شریک کړئ.

## 1 . سوداګریز پلان

راځئ چې یوځل د بڼ جوړوني عصري او مدرن سیستم ته وګورو. آیا تاسې خپل ترلاسه شویو زراعتي محصولاتو پلورلو ته کوم پلان لرئ؟ نو د یوه بڼ د جوړولو لومړی ګام اقتصاد دی- ستاسې د سوداګرۍ د طرحې پای د بازارونو او د قیمتونو د کتنې پورې او همدا راز هغه پانګوونه چې پر تولید باندې شوې ده اړه لري.

- تاسې له یوه مارکیټ یا یوه ښه بازار څخه څومره واټن لرئ؟ بازار ته د محصولاتو پر انتقال مو څومره مصرف کیږي؟ هغه قیمت چې تاسې یې تمه لرئ څومره دی.؟
- کارګر له کومه او په کوم قیمت موندلاشئ؟ آیا کارګر ته لاس رسی آسانه دی کنه؟ ستاسې لومړنی عملیاتي لګښت څومره دی؟

دا یوازې لومړنی هڅې دي چې په سوداګرۍ کې د بازار موندنې لپاره تر سره کیږي. تاسې باید دا پوښتنه وکړئ چې آیا ستاسې پانګه ونه په کرنه کې ګټه لري کنه؟ که چیرته بڼ ستاسې د شخصي مصرف لپاره( د کورنی د مصرف لپاره ) وې نو بیا له دې برخې څخه تیر شئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

**پاملرنه: د سوداګرۍ د پلان کولو لپاره تاسې کولای شئ چې د PIN لخوا د چمتو شویو موادو څخه ګټه واخلئ. دغه کتاب په لیسو کې د سوداګرۍ د زدکړو د لاربښود کتاب په توګه تاسو ته برابر شوي ده. د دغه کتاب د ترلاسه کولو لپاره د انسان په تنګسه کې موسسې له کارکوونکو سره اړیکه ونیسئ. د تجارت یا سوداګرۍ د بنسټیزو مهارتونو د زدکړې کتاب تاسو ته د PIN لخوا چمتو شوی.**

## 2. د ساحې ټاکنه- د هوا حالات او اقلیم

د سایت یا مناسبې ساحې او د میوې د بڼه ډول ټاکنه د یوه بڼ د جوړولو لومړنی ګام دی، چې د سوداګرۍ د طرحې او پلان سره یو ځای پرمخ ځي. د هوا حالات، ارتفاع، د تودوخې درجه، د لمر وړانګې، د هوا سوړوالی او وربښت دا په ګوته کوي، چې کوم ډول میوه چیرته تولید کړو. د هوا د حالاتو ترڅنګ یو شمیر نور عوامل هم شته چې باید لا زیات په پام کې ونیول شي، لکه د خاورې ډول او د اوبو شتون.

د افغانستان ډیری سیمې غرنیزه هوا، سوړ او وچ ژمی لري، پرته له ټیټو ځمکو چې وچه او نیمه وچه هوا لري. ډیری لږ هغه درې چې له پاکستان سره په پولې پرتې دي د هند له موسمي بادونو برخمني دي، چې معمولا د سویل ختیځ له پلو راځي او د سمندر لنده او ګرمه هوا له ځانه سره راوړي. افغانستان واضح او مشخص فصلونه لري، ګرم دوبی او ډیر سوړ ژمی لري. په دوبي کې د حرارت درجه په شمالي درو کې تر (F ° 120) C ° 49 پورې ثبت شوې ده. د ژمني هوا سوړ والي یې هم په منځنی کچه (F ° 15) C ° 9- د ۲۰۰۰ مترۍ (۶۶۰۰) فوټه لوړوالی په هندوکش کې معمول ده. هوا په لوړو ځایونو کې توپیر لري او سره هوا هم په لوړو سیمو کې وي.




**د ځمکې شیب، مثبت او منفی اغیزه یې د تودوخې په درجه باندې**

په پاسني تصویر که وښودل شو چې میوه لرونکي کلک زړي وني لکه، بادام، زردالو، الوبالو او شفتالو، چې ژر ګل کوي باید په لوړو سیمو کې او منه، الو او ناک چې وروسته ګل کوي د باغ په ټیټو ساحو کې کښینول شئ. هغه وني چې ژر ګل کوي باید په سړو سیمو کې له کښینولو یې ډډه وشي، ځکه چې هغوی ژر ګل کوي او ګلان یې د سړي هوا سره له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي.

- د ځمکي شوه (میلان) د میوه لرونکو ونو له dormancy یا د استراحت دروې څخه په وتلو باندي اغیزه لري او دا ډول تاثیرات باید په پام کې ونیول شي. سوېلي ساحې په پسرلي کې ژر ګرمیږي په داسې حال کې چې شمالي شوه بیا برعکس کار کوي. ختیځې برخې متوسطه وې او د سوېلي برخو شوه (د لمر خوا) تر ټول زیات لمر تر لاسه کوي. دا ډول ځمکې په پسرلي ژر تودیږي، په دوبې کې توده او وچه هوا لري او په مني کې بیا ډیر ورسته سړیږي. د محصولاتو رشد په سوېلي برخو کې بیا اوږد دی.
- شوه (میلان) په شمالي طرف (تیاره خوا) کې مخالف عمل کوي. په ګرمه هوا کې ( دافغانستان ختیځ او سوېل) کې شمالي شوه (میلان) کیدای شي چې د پانه ریژیو ونو لپاره ګټور وي.
- ختیځ او لویدیځ لورته میلان د شمالي او سوېلي برخو په منځ کې موقعیت لري. که چیرته موږ ختیځ لوري ته میلان له لویدیځ لوري سره پرتله کړو، نو لویدیځ طرف شوه له ختیځ لورې نه ګرمه ده.( دغه تحقیق در حرارت درجې په اړه د شرقي او غربي لمنو په برخه کې د پنبي پر کښت په افغانستان کې عبدالاحد احد تر سره کړی دی.)

### 3 . د ساحې ټاکنه- د خاورې ډول

میوه لرونکې ونې د میوې د تولید لپاره یو ډول ځانګړې خاورې، لمر او خوارکي یا غذایي موادو ته اړتیا لري. خو بیا هم ټولې میوه لرونکې ونې یو ډول وضعیت نه لري.

له بیلابیلو سرچینو لکه سیمه ایزې قوریې، د کرنې د ترویج له مامورینو او یا هم له انټرنیټ څخه د هغه ونو په اړه چې تاسې یې غواړې کښینوي، د نیالګي د کښینولو د ساحې جوړول او د ځانګړې ډول خاورې په پام کې نیولو په اړه مالومات واخلی.( او یا هم د ونې بدلول، د خاورې مشخصاتو ته په کتو سره .) دا کار تاسې سره مرسته کوي تر څو د ونې له روغتیا څخه ډاډمن شي او داسې ونې ترلاسه کړئ چې هرکال تاسې ته میوه تولید کړي.

د سطحی خاوری نمونه باید pH د تجزیې او تحلیل لپاره راټولې شي. نباتات معمولاً له 5 تر 7.5 pH پورې ښه رشد کوي. خو په هغه کتاب کې چې (د عبدالاحد احد د احداث باغداري در افغانستان تر سر لیک لاندی لیکل شوی) ویل شوې چې نباتات معمولاً له 5 نو تر 7.5 pH پورې ښه رشد کوي. همداشان 6 تر 7 pH د باغداري د محصولاتو لپاره مناسب ګڼل شوي دی. مناسب pH د بیلابیلو ونو لپاره په لاندي جدول کې ښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورې پې اچ او مناسبې خاورې:**

| د میوې ونه | د خاورې پې اچ | د خاورې ډول او د خاورې او نبات ترمنځ د جوړښت یا تعامل درجه |
|---|---|---|
| منه | 5.0 – 6.8 | منه په اسیدي خاورو کې ښه نتیجه لري |
| توت | 5.5 – 6.5 | نسبتاً اسیدي خاوري خوښوي. |
| الو | 5.0 – 6.5 | الو په اسیدي خاورو کې تر خنثی پورې ښه نتیجه لري،او ندرتاً په قلوي خاورو کې رشد کوي. |
| زردالو | 6.0 – 8.0 | ضعیفه قلوي خاوره - کمزوری اسیدي خاوره هم خوښوي. |
| بادام | 6.5 | بادام ،اسیدي، خنثی او قلوي .pH کې حاصل کوي. |
| شفتالو | 6.0 – 6.5 | شفتالو په اسیدي خاورو کې ښه نتجه لري. دغه وني sandy loam خاوره خوښوي او ښه زهکشی ته اړتیا لري. |
| ناک | 6.0 – 6.5 | ناک 5.0 تا 7.5 pH منلای شي. |
| مالته | 6.0 – 7.5 | د مالټې لپاره تیزابي pH ښه دی تر خنثی پورې |
| انار | 5.5 – 7.0 | سپکي اسیدي خاورې د انار لپاره ښه نتیجه لري، او همداشان انار تر ډېره په اسیدي او قلوي شرایطو کې ژوندي پاتې کېدای شي. |
| پسته | 7.1 – 7.8 | له قلوي چاپېریال نه په ګټې اخیستو د پستې ونه په لړ تغیر سره د pH په وړاندې مقامت کوي. او د ضرورت پروخت د لوړه قلوی په مقابل کې هم مقاومت کولي شي. |
| ګیلاس | 6.5 -7.0 | د ګیلاس تولي وني په سپکو خاورو کې ژوند کوې او شګلن خاورې یې د خوښې وړ دي. ګیلاس په کلک او درنده خاورو کې مه کښینوئ. د ګیلاس لپاره مناسب pH 6.5 دی، خو په هر سیمه کې له 5.5 تر 8.0 د خاورې pH وې ورته د منلو وړ شرایط دي. |
| لیمو | 5.5 – 6.5 | لیمو په لومي او یا sandy loam خاورو کې ښه رشد کوي. تروي خاورې، درنده رس خاوره هم د لیمو د رشد مخنوی کوي |
| املوک | 6.5 – 7.5 | په خنثی خاورو کې ښه رشد کوي |
| زیتون | 5.5 – 7.5 | د زیتونو ونه په خنثي pH کي ښه پایله لري او 5.5 تا 7.5 ورته د منلو وړ ده |
| انجیر | 6.0 – 6.5 | دغه ونه متوسط تریوالي منل شي . خو باید ډاډه شو چې خاوره ډېره اسیدي نه وي، انجیر ونه ټیټ pH نشي منلای. |
| چار مغز | 6.8 - 7.2 | چارمغز ونه خنثی ته نږدې خاورې خوښوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 4 . د ساحې چمتو کول

د میوې تولید له 3 تر 5 کلونو پورې وخت اخلي. د دغو کلونو په لړ کې یو باغ بیلابیل مرحلې تیروي. لاندې جدول د یوه بڼ د جوړیدو اساسي پړاوونه ښیي، چې یو پلان د نیالګیو له ایښودو 3 تر 4 میاشتې مخکې عملي کیږي.

***پاملرنه: د یوه بڼ د انکشاف نور پړاوونه په دوم نمبر مالوتي پانو کې د اساسي مهارتونو د زدکړو په برخه کې د بڼ د تنظم یا اداري تر نامه لاندې ذکر شوې دي.***

د یوه بڼ د پرختیا اساسي پړاونه د ونو د کښینولو څخه مخکې

| موده | اساسي مرحلې | فرعي مرحلې | اساسي فعالیتونه |
|---|---|---|---|
| 3 تر 4 میاشتې مخکې د نیالګیو تر کینولو | د ساحې چمتو کول | د بوټو پاکول | د ناکاره بوټو او ونو له منځه وړل |
| | | د ځمکې آماده کول | د ځمکې قلبه او نرمول |
| | | | د حیواني سرې ګډول |
| | | | د ځمکې هوارول |
| | | د بڼ طرحه | د ساحې چاپېر کول (ایسارول) |
| | | | طرح، نقشه او ډیزاین کول |
| | | | د قطارونو جوړول او د ونو ترمنځ |
| | | | د اوبو لګولو د سیستم نصب |
| | | | د غوچو کیندل او ډکول |

*منبع: فرنس سندور،* ROP, افغانستان 2008

## 6. د ځمکې چمتو کول

### قلبه کول یا د ځمکې پاسته کول

خاوره باید مخکې د نیالګیو له ایښودو قلبه او پاسته کړو. د خاورې په آماده کولو کې ستر هدف د خاورې پاسته یا سست کول دي. د خاورې پاسته یا چپه کولو ته قلبه وایي. قلبه باید ژوره تر سره شي ترڅو خاوره نرمه او لوی لوټې یې منځه لاړې شي. ژوره قلبه هغه خاورې چې ښه اوبدل شوې نه وي د ځمکې سر ته راولي او همداشان ژوره قلبه د خاورې د جوړښت د له منځه تلو لامل ګرزي چې دا کار بیا د خاورې د وینځل کیدو د میکانیزم د ډیریدو سبب کیږي.

### د حیواني سرې کارول

د کمپوست سرې له شیندلو مخکې، حیواني او شنه سره باید 1m ژوره په ځمکه کې وکارول شي. داسې چې د نیالګي د ایښودو پروخت دې په غوچه کې دننه نه اچول کیږي. او باید د نیالګي له ایښودو ورسته اضافه شي په دې شرط چې د سرې د فاسدیدو مرحله پوره شي که داسې و نشي نو د ریښو د شړیدو او له منځه تلو لامل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نایتروجن عضوی منابع، لکه یوریا  باید د ژمي او یا پسرلي په موسم کي د پروخت تجزیي او غذایي موادو د خپریدو لپاره وکارول شئ. که چیرته نایتروجن و کارول شي، نو په حقیقت کي دا مصنوعي سره ده نه عضوي. دا په صنعتي ډول له معدني سرچینو څخه تولیدیږي. او له هغه څخه استفاده لکه عضوي سرچیني د بیلګي په ډول د ژو میتیازي هم شته کارول کیږي. سره د یوې عضوي سرچیني په توګه په خاورو کې د غذایی موادو د جوړولو لپاره په کمه اندازه شتون لري. په ساده عبارت، د تازه سرې کارونه یوازې په مني کې جواز لري نه په پسرلي او یا د بوټو د رشد په دوران کې.

### هوارول یا Leveling

**د** ځمکي هوارول څخه موخه، د سطحی ، تشتي او د جویوو په ډول د اوبولګولو اندازه کول دي. پټی باید داسي اوبو ته تیار شي چي د ځمکي جیګ او ټیټوالی یې د اوبو د منظم ویشلو مخه ونه نیسي او باید ډاډه شو چي د اوبو حرکت په ټول پټي کي منظم او همغږی دی.

**په لنډ ډول د ځمکې د هوارولو ګټي دا دي:**

- د ښه محصول یا نبات ترلاسه کول
- په اوبو د ځمکي پوښل کیدل
- د نباتاتو ښه دریدل تر پخیدو پوري
- 40 سلنه د بیکاره بوټو کمیدل او په نتیجه کې د خیشاوې لپاره د 75 سلني ګارګر کمښت
- د کرنیزې ساحې ډیریدل 5 تر 5 سلني پوري
- د زراعتي عملیاتو کمښت له 10 تر 15 سلني پوري
- په اوسط ډول له 10 تر 20 سلني پوری د محصولاتو زیاتیدل

### د ځمکي چاپیره کول (ایسارول) یا Fencing

بادشکن یا د باد ماتونکی، چاپیره کول یا ایسارول، د خاورې خرابیدل د باد له امله او مخنیوی یې، د ځنګلداري په تګلارو پوری تړاو لري. وړې ونې کولای شي په بڼ او یا د بڼ په شاوخوا کې د خاورې د ساتني لپاره په ځانګړي ډول د ځوانو میوه لرونکو ونو د ودې لپاره وکارول شي چي دا د ایسارولو یوه اساسي تګ لاره ده.

## 7. د ونو او ورایټیو ټاکنه

د ونو د ډول یا ورایټیو انتخاب ډیر مهم دی باید د بازار غوښتنه او د ونو د ودې شرایط په پام کې ونیول شي. دا انتخاب په سیمي او د هوا حالاتو پوري اړه لري. د بیلګي په ډول دیو شمیر ونو حساسیت د یخ او باران سره (یوشمیر ونې د کلک زنو او غوښنو میوو (pome fruit) د درلودو له اړخه پیژندل کیږي.)  یو شمیر کلک زني میوه لرونکي ونې ژر له منځه ځي، نو ځکه اړتیا لیدل کیږي چي هر څوکاله ورسته نوې ونې کښینول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره ده چې لومړنی تصمیم داده چې کوم ډول نبات یا ونه باید وکرل شي. آیا ستاسې په ځمکه کې د یوه باغ جوړلو ښه ګټه اخیستنه ده کنه؟ او یا کومه سیمه چې تاسې د بڼ جوړولو لپاره طرحه کړې ده د بازار موندنې او لنډ مهاله پانګوونې لپاره ښه ده؟ که چیرته تاسې ډاډه یاست چې د یوه میوه لرونکې او مغز لرونکو میوو د بڼ مدیریت وکړې نو آیا تاسې د بادامو، منې، زردالو، ګیلاس، انګور، د ستروس کورنی میوې، شفتالو، ناک، املوک، آلو اویا نورو باندې فکر کړی.

**د سړې هوا اړتیا یا Chilling Requirements**

کلک زنې ونې او یو شمیر نور نباتات چې په معتدله هوا پورې اړه لري د خپل راتلوونکې کال زخه یا غوټۍ په دوبي کې پالي او انکشاف ورکوي. په منې کې زخې د استراحت دورې ته ورځي د هوا له یخ درجې سره په مخامخ کیدو ونی د استراحت دوره پیل کوي، خو که له داسې حالت سره مخ نشي نو په عام ډول د پانو، ګلونو او آن میوې په جوړېدو کې ځنډ او خنډ رامنځ ته کیږي. لاندی جدول ښیي چې په افغانستان کې معمولا څو ساعته ونې د سانتي ګراد تر ۷ درجو په ټیټه هوا کې وخت تیروي.

| میوه | د هوا سړښت تر 7 ° C لاندې | د پسرلنی سړې هوا سره حساسیت | تبصره |
|---|---|---|---|
| زردالو | 300-900 | لوړه | په پسرلي کې د سانتي ګراد په کچه له 4 درجو ټیټه هوا په ډیره اندازه د زیان لامل کیږي زردالو په ټیټ رطوبت کې ښه رشد کوي نظر لوړ رطوبت ته چې په دوبي کې دی او د ګڼو نارغیو لامل کیږي. |
| شفتالو | 600-800 | لوړه | شفتالو لندې هوا ته اړتیا لري، د ټیټې درجې په مقابل کې حساس دی. د شفتالو غټې زخې په 6.5 درجه حرارت کې هم زیان منونکې دي. ژورې درې د هغه لپاره ښه ځای نه دی ځکه چې هلته سړه هوا ده. |
| ګیلاس | 800-1500 | لوړه | ګیلاس سړې هوا ته اړتیا لري، خو بیا هم د ګیلاس ګل د یخ په مقابل کې حساس دی. له همدې امله له سړو پاکو سیمو کې د تپو او درو شوه یا میلان چې د سړې هوا د وتلو لپاره د وتو لاره هم ولري د ګیلاس لپاره وړ ګڼل کیږي. |
| آلو | 800-1000 | لوړه | آلو منځنی سړې هوا ته اړتیا لري او د حرارت اندازه یې په مختلفو ډولونو کې فرق کوي. |
| ناک | 800-1500 | منځنی | ناک د استراحت په دوره کې تر 26- ° C او د ودې په پړاو کې تر 45 ° C سړه او توده هوا زغملای شي. پسرلنی یخ وهل د ناکو د کلنی حاصل اندزه مالوموي او په منفی 3.3- ° C کې د ناک راخلاص شوي ګلونه له منځه ځي. په ټیټو ځمکو کې د هغه له کرلو څخه ډډه وکړئ. |
| منه | 1000-1500 | منځنی | په منځنی ډول د ودې په دوران کې د حرارت درجه 21 24 C پورې د منې لپاره مناسبه ګڼل کیږي. هغه سیمې چې تند بادونه لري د منې لپاره ښه نتیجه نه ورکوي او همدا شان باید منه د تپو پر څنډو هم و نه کرل شي. |
| انار | 100-200 | منځنی | انار په هغه سیمو کې ښه وده کوي چې تود دوبی او سوړ ژمی لري. دغه ونې د ګرمې هوا په پرتله د سړې هوا په وړاندې ډیرې حساسې دي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| بادام | 500-600 | لوړه | بادام تر ټولو ښه وده په هغه سيمو کې کوي چې ګرم دوبی او معتدل ژمی لري. او له نورو شرايطو سره ښه هوکړه نه کوي. بادام معمولا په سړه هوا کې وده نه لري. |
| پسته | 1000 | منځنی | د پستې ونه  په منفی  C ° 9- درجه کې زيان ويني . |

| | | | |
|---|---|---|---|
| توت | 400 | منځنی | د توت د ودې لپاره  له C ° 30 - 20 مناسب هوا ده. |
| چارمغز | 600-700 | کښته | له  15- درجه ټيټه هوا د چارمغز د زيانمنيدو لامل کيږي |
| زيتون | 200-300 | لوړه | د زيتونو کښتې تقريباً له  35-7 سانتی ګراد حرارت وده کوی ، خو مناسب حرارت ورته له  C ° 20-15 دی. د زيتونو ونه او ميوه په  C ° 2-به  9- C ° حرارت کې سخت زيان ويني. |
| مالته | 0 | منځنی | مالته له 12 تر 37 درجه سانتی ګراد حرارت ته د ښه رشد لپاره اړتيا لري. خو منفی  C ° 6- او له دې ټيټ حرارت مالتې ته زيان اړوي. |
| ليمو | 0 | لوړه | ليمو په مرطوبو سيمو کې  د 13 درجه سانتې ګراد نه تر  37 ښه نتجه ورکوي. د ليمو ونې په منفی  C ° 3- درجه حرارت کې زيان مننونکې دې. |
| اينځر | 100-200 | منځنی | اينځر په هغه خاورو کې چې ښه زهکشې شوې وي، لمر، ګرمې او وچه هوا ولري ښه ژوند کوي. |

**سرچينه: د امريکا د متحده ايالاتونو د فلوريدا پوهنتون د زراعت ديپارتمنت**

له يوه ځيرنيز مرکز او يا يوه نمايشې باغ يا قوريې ځخه ليدنه تاسې ته دا ارزښمند فرصت درکوې چې د رشد په حالت کې بيلابيلې ونې ووينی د مرکز له مدير سره د خبرو کولو وخت پيدا کړې او د خپل د بڼ مشکلاتو آفاتو او امراضو په اړه ور سره خبرې وکړې او آن د ميوو خوند هم وګورئ.

**يادونه: تاسې کولای شې چې د ځينو ميوه لرونکو ونو ورايټۍ او  د ډولونو بيلګې د زدکړو د اساسې مهارتونو په 4 نمبر چارت کې، چې د قلمې يا پيوند بوټی او نيله بوټو تر نامه لاندی ليکل شوې وګورئ.**

د ليدلو لپاره يوشمير ښه سازمانونه په افغانستان کې په لاندې ډول دي

**د افغانستان د باغدارئ د ملي پرختيا ارګان Afghanistan National Horticulture Development Organization  (ANHDO) تاسې کولای شی چې د دغه ارګان په اړه زيات مالومات له دغه  ويب پاڼې ترلاسه کړې http://afghanistanhorticulture.org/**

- د باغدارئ د ملاتړ او انکشاف سازمان په افغانستان کې چې د خصوصي سکتور او عمومي سکتور نښلولو دنده لري همداشان د حاصلاتو د راټولو وروسته د Value Chainخدمات يا د محصولاتو د ارزښت زنځير تمويلونه په غاړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د افغانستان د باغدارۍ د ملي پراختيا ارګان (ANHDO) Afghanistan National Horticulture Development Organization چې پخوا د (PHDP Perennial Horticulture Development Project په نامه يادېده د شپږ ستيشنونو په درلودو سره په افغانستان د ميوه لرونکو ونو ډېري ورايټۍ لري.

**د افغانستان د باغدارۍ د انشکاف ملي ارګان(ANHDO)**

| مرکز ي دفتر کابل | جلال آباد |
|---|---|
| د بادام باغ ځېرنيز فارم کابل افغانستان | د ننګرهار نوی ځېرنيز فارم جلال آباد دتورخم سړک |
| **کندهار**<br>د کوهرم ځېرنيز فارم | **هرات**<br>د اردو خان ځېرنيز فارم انجيل ولسوالی |
| **مزار شريف**<br>د دهدادي ولسوالی ځېرنيز فارم | **کندز**<br>د کندز ښار ځېرنيز فارم |

- د افغانستان د ملي باغدارۍ د پراختيا ارګان (ANHDO) د کتابونو د ترلاسه کولو لپاره دغه ويب پاڼې ته سر ووهئ: http://www.afghanistanhorticulture.org/phdp/Publications.aspx

- همدا شان PHDP هم په ډېرو تازه وارد شوو ورايټيو کار کوي. کله چې د ANNGO لخوا و ارزول شي دغه ورايټي ګاني د کرلو لپاره خلکو ته په اختيار کې ورکول کيږي.

**د افغانستان د قوريې لرونکو د ملي ارګان ويب پاڼه يا ANNGO http://anngo.org.af/**

- ANNGO د PHDP د پروژې د يوې برخې په توګه جوړه شوه او د 25 په شاوخوا کې محلي تولنيزې قوريې يې د افغانستان په ۲۲ ولايتونو کې سره را ټولې کړي دي.

**د محلي قوريه دارنو پته او اړيکي (منبع ANNGO)**

| ولايت | نوم | دفتر | د اړيکي شميره |
|---|---|---|---|
| غزنی | حکيم ثنايي د قوريه دارانو ملي ټولنه | د ملي بس پخوانی تم ځای | **0799471746** |
| تخار | د تخار د قوريه دارانو ملي ټولنه | د کرنی رياست | **0700700380** |
| ميدان وردک | د ميدان د قوريه دارانو ملي ټولنه | ګلزار مارکيټ | **0775181237** |
| هلمند | د هلمند د قوريه دارانو ملي ټولنه | د کرني رياست | **0706906810** |
| زابل | د شهر صفا د قوريه دارانو ملي ټولنه | جلال خان کلی | **0700382737** |
| بلخ | د خلم د قوريه دارانو ملي ټولنه | د خلم ولسوالی | **0799485749** |
| کنړ | د کنړ د قوريه دارانو ملي ټولنه | د کرنی رياست | **0700994374** |
| بغلان | د چون غر د قوريه دارانو ملي ټولنه | پل خمري | **0777881909** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| پکتیا | د پکتیا د قوریه دارانو ملي ټولنه | د کرنی ریاست | 0799053446 |
| سمنګان | د ایبک د قوریه دارانو ملي ټولنه | ګودام سړک | 0799102397 |

| ولایت | نوم | دفتر | د اړیکي شمیره |
|---|---|---|---|
| لغمان | د لغمان د قوریه دارانو ملي ټولنه | چهار دهي کلی | 0799670660 |
| بدخشان | د بدخشان د قوریه دارانو ملي ټولنه | بهارک ښار | 0775386708 |
| هرات | د هرات د قوریه دارانو ملي ټولنه | د کرنی ریاست | 0708462422 |
| بامیان | د کوه مر د قوریه دارانو ملي ټولنه | د کوه مر ښار | 0775851690 |
| پروان | د سید خیل د قوریه دارانو ملي ټولنه | سید خیل | 0799752889 |
| ننګرهار | د ننګرهار د قوریه دارانو ملي ټولنه | د کرنی ریاست | 0775450552 |
| کندز | د کندز د قوریه دارانو ملي ټولنه | د کرنی ریاست | 0786166625 |
| پروان | د باګرام د قوریه دارانو ملي ټولنه | رباط کلی | 0700029628 |
| بغلان | د امام قطبی د قوریه دارانو ملي ټولنه | اریا مارکیټ | 0778812435 |
| بلخ | د ام البلاد د قوریه دارانو ملي ټولنه | مزارشریف | 0700049952 |
| بغلان | د اندراب د قوریه دارانو ملي ټولنه | ده سلاح ښار | 0707923932 |
| میدان وردک | داکتر وکیل انجمن قوریه داران ملی | د سنګ سیاه کلی | 0700249579 |
| کندهار | د کندهار د قوریه دارانو ملي ټولنه | د ګادیانو سړک | 0700305406 |
| کابل | د پغمان د قوریه دارانو ملي ټولنه | دوده ماست کلی | 0700280657 |
| لوګر | لوګر د قوریه دارانو ملي ټولنه | پل آلم ښار | 0708370934 |
| کابل | د شکر درې د قوریه دارانو ملي ټولنه | د کوچیانوکلی | 0798718114 |

په افغانستان کې د میوه لروونکو ونو ګڼ ډولونه شته چې اوس مهال په ملي کلکسیون کې خوندي شوي دي. دغه ورایټۍ د باغدارۍ د پراختیا په مرکز کې (Perennial Horticulture Development Centers) شته، **چې تاسي کولای شی، چې له دې مرکزه لیدنه وکړئ او له اړونده مسوولینو سره د میوې د ونو د کیفیت او ډولونو په اړه بحث وکړئ.**

**بادام**

په ټوله کې د بادامو 90 ورایټۍ یا ډولونه په ملي کلکسیون کې، د باغدارۍ د پراختیا Perennial Horticulture Development Centers په دوو مرکزونو مزار شریف او کندز کې شته.

| **منشاء** | **ورایټۍ** |
|---|---|
| سمنګان | د سمنګان کچک |
| کندز | چار درې کاغذي |
| ننګرهار | میده کاغذي |
| بلخ | پسته بادام |
| بلخ | ستار بایي بخملي |
| هرات | دوه پوسته کاغذي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| کندهار | چنګکي |

**منه**

په عمومي توګه د مڼي 86 ورایټۍ په ملي کلکسیون کي د باغدارۍ د پراختیا Perennial Horticulture Development Centers د کابل او کندز په مرکزونو کي شتون لري.

| **منشاء** | **ورایټي** |
|---|---|
| پروان | حبیبي |
| بلخ | ګوا رخش |
| پنجشیر | نازک بدن |
| وردګ | سیمه ایز |
| بدخشان | رخش |
| سرپل | قندک |
| تخار | زرد بیګي |

**زردالو**

د افغانستان د ملي کلکسیون د باغدارۍ د پرختیا Perennial Horticulture Development Centers مرکز په کابل او مزار شریف څانګو کي 129 ورایټۍ لري.

| **منشاء** | **ورایټي** |
|---|---|
| ننګرهار، وردګ، کابل، بلخ، کندز، پنجشیر، و پروان | امیري |
| بلخ | پیرنقشي |
| پروان، وردګ، پنجشیر، ننګرهار و هرات | قیسي |
| کنړ، وردګ، ننګرهار، هرات و کندهار | چار مغزی |
| کندهار | نري سپین |
| بامیان و وردګ | ساقي |
| لوګر | قندک |

**ستروس**

د ستروس 54 ورایټۍ د ملي کلکسیون د باغدارۍ د پرختیا د مرکز Perennial Horticulture Development Centers د جلال آباد په څانګه کي شته.

| **منشاء** | **ورایټي** |
|---|---|
| ننګرهار | سیمه ایز |
| ننګرهار | شیشم باغي |
| ننګرهار | لیسبن |
| کنړ | میتا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ننګرهار | چينو تو |
| ننګرهار | کاغذی |
| ننګرهار | ليسبن |

**شفتالو**

په توله کې 110 ډوله د شفتالو ورايټۍ د باغدارۍ د پرختيا Perennial Horticulture Development Centers د مرکز د هرات او کندهار ولايتونو د ملي کلکسيون په ځانګو شته.

| منشاء | ورايټي |
|---|---|
| ننګرهار و کندهار | ګرمه |
| بلخ، سمنګان و بغلان | جوزايي |
| کنړ، کندز، سمنګان و بغلان | سرده |
| هرات و کابل | شليل شب رنګ |
| کندهار | شليل زرد |
| بلخ | جوي شيرين |
| کندز، سمنګان و بغلان | سرطاني |

**انار**

په ملي کلکسيون کې د انارو د 79 ورايټيو ډولونه شته، چې د باغدارۍ د پراختيا Perennial Horticulture Development Centers د مرکز په کندهار او جلال آباد ځانګو کې شته

| منشاء | ورايټي |
|---|---|
| بلخ و ننګرهار | شيرنک |
| کاپيسا | مايه خوش سپين |
| فراه | سزک داني سرخ |
| ننګرهار و بلخ | تاشقرغاني |
| کاپيسا | ککه شين |
| بلخ، ننګرهار و کاپيسا | کندهاري |
| سرپل | مايه خوش |

**جاپاني آلو**

په ملي کلکسيون کې 54 ورايټۍ د جاپاني الوګانو شته، چې د باغدارۍ د پراختيا Perennial Horticulture Development Center په هرات او کندهار ځانګو کې موجود دي.

| منشاء | ورايټي |
|---|---|
| بلخ | ژرکندزي |
| ننګرهار | سلطانپوري |
| هرات و کابل | سور |
| کنړ | ريد فلش |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| هرات و لغمان | ژړ |
| وردک، کابل، بلخ و پنجشیر | فارموسا |
| سور فارموسا | کندز |


## 8. طرح، ډیزاین او د نیالګیو د کېښینولو تګ لاره

د باغ طرحه په اوږد مهال کې د ونو په روغتیا باندې خپل اثر لري او همداشان په باغ کې عملیات هم آسانه کوي، لکه شاخه بري، اوبه لګول، د سري ورکول او د هرزه بوټو او آفاتو کنټرول او نورې اړونده چارې په آسانه تر سره کیږي. د ونو او ردیفونو ترمنځ واټن تاسې سره د ناروغیو په کنټرول او د حاصلاتو په راټولولو کې مرسته کوي.

په عام ډول د بڼ ډیزاین او د نیالګیو کښینول یو منظمې تګ لارې ته اړتیا لري او دغه تګ لاره په مختلفو ډیزاینونو طرحه کیږي. لکه مربعي، مستطیل، مثلث، پنځه پایه یي او داسې نورې تګ لارې. دغو طرحو او تګ لارو لپاره دوې اصلي دلې شته. واړه بڼ وال (هغه بڼ وال چې کمې ځمکې لري) دغه ډله کسان له مربع یا مستطیل شکلونو څخه د خپلو باغونو د جوړولو لپاره کار اخلي. په عین وخت کې پنځه پایه یي تګ لاره د هغه بڼ والو لپاره مناسبه ده چې پراخې ځمکې د محصولاتو د تولید لپاره لري. نیله بوټی یا Rootstock او د شکل ورکولو تګ لاره هم ګټوره ده تاسې د دغو طرحو مثبت او منفی اړخونه دلته لوستلای شئ.

### مربع تګ لاره(*Square pattern*)

- مربع یا څلور ضلعي د باغداری تر ټولو ساده تګ لاره ده. په دغه تګ لاره کې د ونو او قطارنو ترمنځ واټن برابر دی.
- د ونو منځ خالي وې او په دغه سیستم کې د ونو ترمنځ د نورو محصولاتو د کرلو اجازه هم ورکول کیږي.
- د مربع شکل یوه ګټه دا هم ده چې په آسانی سره دیزاین کیږي. او همداشان ماشین آلات په آسانه پکښې کار کولای شي.
- په دغه تګ لاره کې ونې سهار او مازدیګر یو پر بل باندې سورې کوي نو دغه تګ لاره تر ډیره په ګرمو سیمو کې چې ډیر لمر لري د ګټې اخستنې وړ ده لکه د افغانستان ختیځ او سویلي برخې چې ښکته ځمکې لري.
- خو په سړو سیمو لکه د افغانستان مرکز او شمال چې ځمکې په لوړه کې موقعیت لري دغه سیستم ګټور نه دی.





مربع تګ لاره (*Square pattern*)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### مستطیل تک لاره (*Rectangular Pattern*)


- په دغه سیستم کې ونې د هر مستطیل په یوه کونج کې کښینول کیږي. د دوو ردیفونو ترمنځ واټن معمولاً د دو ونو ترمنځ زیات دی چې په یو ردیف کې سره ځای لری. د ونې او قطار ترمنځ برابره فاصله نشته.
- د ونو د ردیف ترمنځ په کافي اندازه فضا شته چې دغه کار د زراعتی عملیاتو لکه شاخه بری، ابولګولو، دواپاشی، د حاصلاتو د راټولولو او نور ماشین آلاتو څخه د ګټې اخستو کار آسانه کوي.
- که په دغه تک لاره کې د مستطیل اوږد طرف د لویدیځ او ختیځ په لیکه برابر شي نو د سهار او مازدیګر لخوا د ونو سورى یو پر بل کم راځي چې په پایله کې یې هره ونه په کافي اندازه له لمر څخه استفاده کوي او دغه تک لاره د سړو سیمو لپاره ګټه وره ده.




مستطیله تک لاره ( *Rectangular*

### پنځه پایه یې تک لاره(*Quincunx or Diagonal System*)

- دغه تک لاره د مربعی تک لارې سره ورته والی لري، چې په اساس یې د هري مربعی په سر کې یوه د مڼې یا ناک (هغه میوه لرونکې ونې چې اوږد عمر لري) کښینول کیږي. او د مربعې په منځ کې داسې ونې کرلای شو چې ژر میوه تولیدوې او دغه ونې باید وروسته له څو کلنو هغه وخت له منځه یوړل شي چې اصلی ونې وده او میوه وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه پایه یې تګ لا

## د کانتور سستم (*Contour System*)

- د کانتور تګ لاره په عام ډول په شوه یا میلان لرونکو ځمکو او د تپو پر سر د تطبیق وړ ده.
- په دغه تګ لاره کې ونې د کانتور په اوږدوالي او یا هم د شوې یا میلان په پاسنۍ برخه کې کرل کیږي.
- دا سیستم د هغه ځایونو لپاره ډیر ګټور دي چې د خاوري د فرسایش یا له منځه تلو خطر په کې زیاد وي او د ابوبه لګول هم پکې سخت وي.
- دغه تګ لاره د افغانستان لپاره هم ګټوره ده چې ښه بیلګه د افغانستان په شمال کې چیرته چې د پستې ونې کښینول شوي لیدلای شو.




د کانتور سیستم د چپ طرف تصویر د WFP یو نمایشی باغ دی چې د بلخ ولایت په شادیان سیمه کې موقعیت لري

### 9. د ونو ترمنځ واټن

د ونو ترمنځ واټن نه یوازې چې کرنیز عملیات لکه په باغ کې د ماشین آلاتو کارونه، دوا شیندنه، شاخه بري، د محصولاتو راټولو آسانه کوي، بلکه د ځمکې پر حاصلخیزی، د آفات او امراضو پر کنټرول او ونو ته د لمر په رسیدو باندې هم لوي اثر لري. همداشان د ونو ترمنځ واټن د میوه لرونکو ونو د اوږد عمر لپاره مهم کار دی. په عین وخت که د ونو ترمنځ لازم واټن نه وي نو د ونو حاصلات هم کمیږي. خو که چیرته د ونو ترمنځ واټن زیات هم شي نو پر حاصلات منفی تاثیر کوي یعنی ډیره ځمکه شاړه پاتې کیږي. که چیرته د ونو او ردیفونو ترمنځ فاصله باندې پوه شي، نو په یوه ساحه کې د ونو د کښینولو لپاره آسانه چاره ده. په یوه ساحه کې د ونو د شمیر د کښینولو لپاره له دغه فارمول څخه ګټه اخلو:

$$\text{د ونو یا بوټو شمیر} = \frac{\text{د کښت لاندې ساحه یا سیمه}}{\text{د بوټو ترمنځ واټن} \times \text{د قطار تر منځ واټن}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګي په ډول که چیرته موږ 2000 متره مربع ځمکه ولرو او وغواړو چي یو باغ پکي جوړ کړو او د ونو ترمنځ فاصله 5 مره او د دوقطارونو ترمنځ 4 متره واټن په پام کي ونیول شي په یاده ساحه کي څومره نیالګیو ته اړتیا ده؟

$$\frac{2000\,M^2}{5\times 4} = 100\,plants\ in\ 2000\,M^2$$

**د قطارونو او ونو ترمنځ واټن**

| د میوو وني | د ونو او قطارنو ترمنځ واټن په متر | |
|---|---|---|
| | د ونو ترمنځ واټن | د قطارونو ترمنځ واټن |
| مڼه | 5 | 6 |
| ناک | 4 | 6 |
| زردالو | 6 | 6 |
| شفتالو | 6 | 6 |
| آلو | 5 | 6 |
| آلوبالو | 6 | 6 |
| مالټه | 5 | 6 |
| انار | 4 | 5 |
| لیمو | 4 | 5 |
| املوک | 7 | 8 |
| توت | 10 | 10 |
| اینځر | 5 | 5 |
| زیتون | 7 | 7 |
| چار مغز | 15 | 15 |
| پسته | 7 | 8 |
| بادام | 5 | 6 |

په دې جدول کې د ونو او قطار ترمنځ واټن زیاد دی. خو دا یوه لویه تیر وتنه نده، د ونو او قطار ترمنځ زیاد واټن یو دودیز سیستم دی او له دې جدول څخه پوهیږو چي په افغانستان کې د ونو ترمنځ واټن عام کار دی. خو که د ونو او قطارونو ترمنځ واټن کم وي نو دا د دې معنی لري چي په یو هکتار یا یوه جریب ځمکه کې ډیر نیالګي کښینوو، چې وني ډیرې نه لوړیږي او شاخه برې یې آسانه او د ونو حاصل هم په آسانی سره راټولیږی. په دې ډول بڼ کې که د هرې ونې حاصل زیاد هم نه وي خو بیا هم د باغ عمومي حاصل زیاتیږي. په څیړنیزو او وړو فارمونو کې معمولا د ونو او قطارنو واټن لږ دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د مزار شريف څيرنيز فارم چې د ونو او قطارنو ترمنځ يې فاصله لږ ده

## 10. د نيالګيو کښينول

ورسته له پورتنيو مراحلو چې مخکي يې يادونه وشوه لکه (د سايت يا ساحي ټاکنه، د ځمکي آماده کول، د ورايټيو ټاکنه د بڼ طرحه او ديزاين) د نيالګيو په کښينولو پيل کوو:

**د غوچو آماده کول**

د باغ ديزاين ته په پام سره لومړی بايد د ونو د اېښودو ځايونه په نښه شي. د دې کار لپاره د نيالګيو داېښودو له تختي کار اخلو لکه څنګه چې په لاندی تصوير کې ګورئ.



د نيالګيو اېښودولو له تختي څخه د ګټي اخيستو تګ لاره. سرچينه (AAEP)

وروسته له دې چې د نيالګي د کښينولو ځای د يوه سيخ يا لرګي په واسطه په نښه شو، مخکي له دې چې غوچه وشکوئ، نو د نيالګيو کښينول د تختي جری په ځمکه کي د ننويستل شوي لرګي يا سيخ سره برابره کړئ. لکه څنګه چې په تصويرونو کې ښکاري دوه نور سيخونه هم د نيالګيو د ايښودو د تختی د جری په دوه خواوو کي ځای پر ځای کړئ او په ځمکي کي يې ننه باسئ. اوس د نيالګيو د ايښودو تخته لري او د غوچي په کيندلو پيل وکړئ. کله چې نيالګی کښينوی نو بيا هم د نيالګيو د کښينولو تخته د غوچي د دو خواوو د سيخونو په منځ پرېږدئ او نيالګی د تختي په جری کې ځای پر ځای کړئ ترڅو قطارونه مو په يوه مستقيم خط کې راشي.

- د نيالګيو غوچه بايد د 60CM X 60CM X 60CM په شاوخا کې وي. غوچي ورسته له بارانه و شکوئ او يا مخکي له شکولو خاوره اوبه کړئ.
- کمپوست او سره د آماده کولو مهمي برخي دي، ځکه په خاوره کې د عضوي مواد شتون د خاورو کيفيت ښه کوي او ښه خوراکي مواد د ونې لپاره برابروي.
- هره غوچه نيمي کراچي يا له 5 تر 10 کيلو ګرامه کمپوست ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کله چې غوچه شکوئ نو سربیرنه خاوره له لاندینی خاورې څخه جدا کړئ.
- کله چې غوچه آماده شي نو کمپوست له سربیرني خاورې سره یو ځای او د غوچې په لاندنی برخه کې یې واچوئ(همداشان کولای شی چې د 25 گرامو شاوخوا کې single super phosphate هم په غوچه کې اضافه کړې خو ډېر ضرور هم نه دي).
- غوچه بیرته له خاورو ډکه کړئ چې د ځمکې له مخې لوړه وي. خو دا طبیعي ده.

- د نیالگیو له ایښودو 2- 3 اونی مخکې د غوچې په ښنه کول. دغه وخت اجازه ورکوي چې خاوره لاندې ځای ونیسي او کمپوست هم ښه تجزیه شي. که مونږ له 2 تر 3 اونی پورې صبر ونکړو نو کومه ستونزه نشته مونږ کولای شو سم دلاسه کمپوست او سره یو ځای کړو.




د نیالگیو غوچه باید د 60CM X 60CM X 60CM په شاوخا کې وي. سرچینه *(AAEP)*



*کمپوست له سربیرني (پاسنی) خاورې سره یو ځای او د غوچې په لاندنی برخه کې یې واچوئ ( تاسي همداشان کولای شي چې د 25 گرامه په اندازه د سوپر فاسفیت ترکیبي سره هم استفاده کړي، خو حتمي نه ده. د تصویر سرچینه (AAEP)*



پاسنی خاوره یوې خواته او لاندنی خاوره بلې خواته واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نیالګیو د اېښودو تخته ستاسې سره مرسته کوي چې ونې په یوه مستقیم خط کې راشي او مستقیمې و درېږي. د تصویر سر چینه ر(AAEP)



*د نیالګیو له ایښودو ورسته باید ونه ژر اوبه شي*



د نیالګی د ثابت درېدو لپاره تکیه ودرول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان په تنګسه کې موسسه د چک په جمهوریت کې یو غیر دولتي نړیوال سازمان دی چې د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې پراختیایي مرستې چمتو کوي.

دا مالوماتي پاڼې د کرنې د مسلکي لیسو د زدکړې په برخه کې د ښه والي راوستلو په موخه د چک جمهوریت د پراختیایي مرستو پواسطه خپرې شوې دي.


لیکونکی: نهضت الله نهضت

تصحیح: د کرنیزو ښوونو د ټیم لخوا

ژباړه: نجیب الله فروتن

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**